# د نرسانو نړيواله ورځ

ليک: ډاکټر رمېش کمار
ژباړه: پروفيسر نور احمد فطرت

په دولسمه مئ باندې نړيواله ورورولي د نرسانو نړيواله ورځ لمانځي. د دې ځانګړې ورځې موخه د نرسانو په انساني ټولنه کښې د هغوي د مقام ټاکنه ده. د افسوس ځائې دے چې نن مونږ د انسانيت د ملاتړ او چوپړ څخه نۀ صرف غافله شوي يو بلکې د نرستوب و باوقاره ځانګې ته د



احترام ورکولو څخه هم په خوند خوند پاتې شوي يو. د پاکستان د جوړېدو څخه تر نن ورځې پورې په دغه هېواد کښې داسې ډېر انسان خوښه او انسان دوسته تاريخي سړي تېر شوې دي چا چې

خپل ټول ژوند د انسانيت د خېرښېګړې لپاره وقف کړے ؤ. د پاکستان د لومړي وزير نواب زاده لياقت علي خان تړاو د يو نواب خاندان سره ؤ لېکن د هېواد په مينه کښې دۀ هر څه قربان کړل. د مرګ په وخت د دۀ څيرې بنيان دا زباتوي چې دۀ د غريب اولس لپاره څه وئيل. هغه ئې ښکاره هم

کړل د دۀ کوروداني بيګم رعنا د نرسنګ د پېشې د وقار د سر لوړې لپاره نۀ هيرېدونکي خدمتونه ترسره کړل. دې د قيام پاکستان څخه وروسته د کډوالو لپاره په جوړو شوو پنډغالو کښې د بې

وسه ناروغانو د درملنې لپاره زورور اقدامات وکړل په دغه زمانه کښې په پاکستاني روغتونونو کښې د ښځينه نرسانو شمېر په نيشت حساب ؤ د بيګم رعنا ذاتي هڅو د خلقو په عامه پوهاوي کښې ستر رول ولوبولو او خلقو خپل ټولنيز تعصب شاته کړل او خپلو رويو ته ئې د سره کتنه وکړه. نن چې زمونږ په روغتونونو کښې کومې نرسانې په نظر راځي دا د بيګم رعنا د سترو هڅو پايله ده. د دولسمې مئ ورځ د نوي نرسنګ د موسيسې د برطانيې د نرسن فلورنس نايټ انګيل د کليزې يا سالګرې ورځ ده او زما د دغه کالم مقصد د نرس فلورنس او رعنا لياقت علي خان سره سره ټولو نرسانو ته د خراج تحسين وړاندې کولو څه وړانديزونه کول هم دي.

نرس فلورنس په يويشتمه مئ ۱۸۲۰ ميلادي کښې د ګلونو په ښار په فلورنس کښې په يو جاګيرداره کورنۍ کښې پيدا شوې وه. لېکن دې خپل ټول عمر د دوک وهيلي انسانيت په چوپړ کښې تېر کړو. وئيل کېږي چې دا د دولس کلونو وه دا به دغه فکر ناارامه کړې وه چې د يوې آسوده حالي شهزادګۍ لپاره د عيش او عشرت ژوند هلته جائزه نۀ دے چرته چې دنيا د ربړونو ياد تکليفونو ځاله جوړه شوې وي. د دغه پوښتنو د ځواب په لټون (فلورنس) د عملي ژوند لپاره د نرستوب د څانګې انتخاب وکړو. دې کښې يوې پېغلې لپاره دا پريکړه په داسې حالاتو کښې اسانه خبره نۀ وه چې په لوېديره کښې هم د نرس توب څانګه ډېره بده بلله کېدله. په دغسې حالاتو کښې نۀ يواځې پېغلې فلورنس په دغه ازغنه او کړکيچنه شعبه کښې قدم کېښودو بلکې دې په خپل ستر همت،باتورۍ او اخلاص سره داسې خدمتونه ترسره کړل چې نن ګردې نړۍ د نرسنګ څانګې ته د درناوي په نظر سره ګوري. فلورنس د څلور ديرش کلونو په عمر کښې خپل عالي خدمتونه د کريميا په محاذ جنګ کښې وړاندې کړل د ښاري اسانتياؤ په نۀ شتون کښې د جنګ څخه د متاثره شوو ناروغانو ته د طبي سهولتونو د ورکولو لپاره (فلورنس) د وس تر سرحده ودرېدله. د شپې چې به ډاکټرانو (درملن) ارام کولو نو فلورنس ډيوه په لاس کښې و ناروغانو ته ودرېدله او هغوي ته به ئې زړۀ ورکولو. ټول عمر د انسانيت په چوپړ اخته فلورنس نائټ انګيل د ۹۰کلونو په عمر کښې په ديارلسم اګست ۱۹۱۰ميلادي کښې په پرسکونه انداز کښې مړه شوه.

د فلورنس د ژوند کيسه نۀ يواځې زمونږ لپاره يو د رڼا څرک دے بلکې زمونږ لپاره يو لوئې د هدايت او همت سبق هم دے. د دې څخه ښکاره کېږي چې د دوک وهيلي انسانيت د چوپړ لپاره ستا سره صرف يو دردمن زړۀ کافي نۀ دے بلکې په داسې يو حساس ځائې کښې عملي هڅې بايد په کار واچول شي. دلته نو تاته پکار ده چې د ټولنې نادودې او پوچې خبرې وزغمې او خپل ځان د يو ستر هدف ته ورسوې. خدمت يا چوپړ يو

داسې ستر عمل دے چې نن د سل کالو نه تېرېدلو باوجود د فلورنس ياد په څلور کنجه پيني کښې شته.

د ملګرو ملتونو د يو راپور سره سم په نړۍ کښې د دوو کروړو څخه زياتې نرسانې د دنيا په بېلابېلو هسپتالونو کښې خدمت ترسره کوي. د عالمي اداره صحت د اعداد او شمار مطابق په دنيا کښې زياتې نرسانې په امريکه کښې شته. نن په بدختۍ سره په پاکستان کښې د نرستوب څانګه دغه ډول د سماجي امتياز ښکار ده د فلورنس په زمانه کښې چې اروپا کښې وه. په دغه سلسله کښې مونږ ته د خپلې ټولنې د مائينډ سيټ يا د ذهني رويې د بدلولو لپاره د بيګم رعنا رنګه سترې ښځې يو کمے محسوسوؤ زۀ پوښتنه کوم باوجود د دغه امرن چې د بهترينه نرسنګ يا نرستوب پرته د علاج او معالجې بهترينه اسانتياوې ورکول په هيڅ ډول ممکنه يا شوني نۀ دي نو اخر مو بد ولې په ښځينه نرسنګ کښې کار کول (نوکري کول) بدبولو زمونږ ټولنيزه الميه دا ده چې کله زمونږ د کورونو ښځې (د ناجوړتيا په وخت کښې) په روغتون کښې داخلې شي. نو دلته زمونږ د ټولو دا کوشش وي چې د دوي درملنه دې د ښځو نرسانو په ذريعه وشي. د ژوند او مرګ په کشمکش کښې د اخته ناروغ لپاره نرم ګفتاره زړۀ راښکونکې او په اخلاص سره د چوپړو وهونکې نرس وجود د نا اميدي (ناهيلي) په تياره کښې کۀ يو د رڼا څرک نۀ وي نو څه دي؟ لېکن مونږ دلته په خپل هېواد کښې د خپلو ښځو د نرس جوړولو سوچ هم نۀ شو کولے بلکې په مونږ کښې چې کومه جينۍ يا ښځه د دغه عزتناکې پېشې يا دندې د خپلولو اظهار هم وکړي مونږ د هغې د خولې بندول د خپلې کورنۍ د غيرت تقاضه ګڼو. زمونږ د بې قدرۍ او پر تذليل باندې د ولاړو رويو څخه نن زمونږ نرسانې قدم په قدم باندې د معاشيت او ټولنيز مسئلو سره لاس او ګريوان دي. د ډاکټر د خښم نه علاوه په ډېرو ځايونو کښې نرسه د مريض يا ده غه د خپلوانو لخوا د جسماني تشدد سره مخامخ کېږي. نرساني يا نرسي هم لکه زمونږ د هېواد ډاکټران په روغتون کښې اوږدې دورانيې يا ډيوټيانې تېروي بلکې د اضافي معاش پرته د بېړني حالاتو په وخت کښې ښځينه نرسي تر ماسپښينه ان تر ماښامه په خدمت اخته وي. په پاکستان کښې د ګرانۍ په دغه دور کښې يوه نرسه په کمه تنخوا معاش باندې په يو وخت کښې په ډېرو روغتونونو کښې په کار کولو باندې مجبوره ده. البته په شخصي هسپتالونو کښې د ښځو نرسانو د استحصال شکايتونه خو لا نور دي چرې چې په ټولنيزو رويو کښې ښه والے اړين دي هلته په لوړه کچه د نرسنګ څانګه د حکومتي توجې مستحقه ده. د رسنۍ (ميډيا) د اطلاعاتو مطابق په سرکاري روغتونونو کښې په خاص ډول په اپريشن تهيټر (چرې چې عمليات کېږي دې ته اپريشن تهيټرز وائي) او په ايمرجنسي وارډز

کښې د نرسانو مطلوب تعداد ډېر کم دے. د لوئې مختاتي اندازې مطابق په پاکستان کښې د روزل شوو نرسو شمېر د اويا زره څخه کم دے. په ټول هېواد کښې د نرسنګ د تعليم او تربيت دغه ډول د نړيوال معيار د اعلی تعليمي ادارو ډېر ضرورت محسوسېږي دلته بايد زمونږ نرسې د نړۍ د تربيه شوو نرسانو څخه هم ډېر څه زده کړي. د پاکستان د نرسنګ کونسل سره سم په هېواد کښې د نرسنګ په څانګه کښې د ډپلومې او د برې ليک (ډګرۍ) د پروګرام د وړاندې کولو ادارو شمېر صرف پينځه دے. په دغه حواله سره د پاکستاني نرسانو لپاره د باندې هېوادونو د سکالرشپ (سرکاري وظيفه) فيلو شپ (فيلو شپ هم سرکاري وظيفه ده) او د پروفيشنل تبادلې (د نوکرۍ بدلېدلو ته وائي) د پروګرامونو د جوړولو هم ډېره اړتيا شته. د سماجي امتياز يا فرق، نا انصافي او داسې نورو بدو رويو مظاهره هم د نرسو پر ښه کارکردګۍ اثر غورځوي. لېکن يوه ذمه واره او فرض پېژندونکې نرسه بايد د فلورنس نائټ انګيل د ژوند کيسه ومخته کېږدي او زمونږ د هېواد نرسانې بايد پوهه شي چې په ژوند کښې د دوکې انسانيت د خدمت پرته بل خدمت نشته. او حقيقي سکون هم په حقيقي چوپړ کښې شته. نو زۀ زما د هېواد نرسو ته په ډاګه وايم چې تاسو حوصله ولرئ په دغه سخت کړاجنه زورروره دنده کښې پر تاسو بې شمېره ستونزې راتلے شي

لېکن يوې نرسې ته پکار ده چې د صبر او زغم لمن ايله نۀ کړي. زۀ د نرسو يا د نرسانو په نړيواله ورځ د فلورنس،بيګم رعنا او نورو لويو چوپړ وهونکو نرسانو ته د خراج تحسين وړاندې کولو سره ناروغانو او د دوي خپلوانو ته يو عرض وړاندې کوم ګورئ کۀ تاسو چيرې د يو نرسې سره نن يعنې په دولسمه مئ ملاوېږئ نو هغه ته هيپي نرسنګ ډے يا په خير د نرسو ورځ ووايئ او د دوي په لوړو او سترو خدماتو دوي ته سلام واقعي سلام وړاندې کړئ. ولې چې د درملن يا ډاکټر سره اوږه په اوږه د ناروغ خدمت کولو والا زړۀ پورته کولو والا د پيچ کارۍ لګولو والا غړکه يا ډريپ لګولو والا په اپريشن تهيټر کښې د طبي ساز و سامان نيولو والا نرسه هم دومره د درناوي وړ ده څومره چې زمونږ د هېواد يو قامي وطنوال ډاکټر او داسې نور......

زۀ يو وړاندېز وړاندې کوم چې حکومت پاکستان دې پر ايالتي او قامي سطح باندې چوپړ وهونکو نرسو ته د کلني نرسنګ ايوارډ يا انعام انعقاد هم وکړي په دې کار سره به د دغه معززه پېشې يا دندې سره وابسته نرسانو ته زمونږ په ټولنه کښې په ښه نظر وکتل شي او دوي به په دغه پاکستاني ټولنه کښې يو باوقاره او د قدر وړ ځائې پېدا کړي.

☆☆☆